شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

فرار تفنگداران اداره ائتلافي از مواضع شان روبه افزایش است

کابل - ٦ عقرب :

حدود بیست تن از افراد مسلح گروه شوراي نظار از خطوط مقدم جبهه فرارنمودند .

گزارش رادیو پیام آزادي حاکیست سلسله فرارتفنگداران اداره ائتلافي ازمواضع شان ازمدت ها قبل جریان داشته ، اما در روز هاي اخیر که نیروهاي شوراي عالي هماهنگي به فتوحات چشمگیري نایل شده اند این امر افزایش یافته است.

طبق گزارش ،اخیراً (٢٠) تن از اعضاي باند نظارمواضع شان را درکوه شیر دروازه وشفاخانه ابن سینا ترك نموده وپابه فرارگذاشته اند .

طاهروشریف دوتن از قوماندانان اداره ائتلافي اقدام به گروگان گیري اعضاي فامیل فراریان نمودند تا بدینوسیله بار دیگر آنها را به سنگرها بکشانند، اما این تلاش آنها نه تنها نقش برآب شد، بلکه موجب نفرت وانزجار مردم نیز گردید.

محمودمستیری له جنرال دوستم سره وکتل

اسلام آباد : دلرم - ٦

د رارسیدلو ریوټونو له مخې د ملګرو ملتوخاص استازي محمود مستیری پرون له اسلام آباد څخه مزارشریف ته ولاړ. چي د جنبش ملی اسلامی د مشر جنرا ل عبدالرشید دوستم سره دافغانستان د رواني لانجی دحل په باب مشوره وکری اوهم د کوټې د غونډې په باب هغه ته معلومات ورکړي .

ریوټ زیاتوی په دغه سفرکې له محمود مستیری سره ډاکټر یوسف،عبدالستارسیرت اومحمود غازی هم ملګری دی .

په خبرکی ویل شوی چی محمود مستیری به دجنرال دوستم سره له ملاقات نه وروسته بیرته اسلام آباد ته راستون شي .

شماره مسلسل (٨٥٦) سال هفدهم ،شماره ((٩٤) یکشنبه (٨) عقرب ١٣٧٣ هـ ش - ٢٦ جمادي الاول ١٤١٥ هـ ق - (٣٠) اکتوبر ١٩٩٤ م

قیمت (١٥٠) افغاني (٢ روپیه)

مقامات عالیرتبه شورای عالی هماهنگی تشکیل جلسه دادند

چهارآسیاب ٦ عقرب :

قبل از ظهر روز جمعه جلسه سران شوراي عالي هماهنگي دریکي ازمراکز حزب اسلامي افغانستان در چهار آسیاب دایرگردید.

گزارش رادیوپیام آزادي حاکیست: درین جلسه برادرحکمتیارامیر حزب اسلامي افغانستان ،محترم صبغت الله مجددي رهبر جبهه نجات ملي ، محترم استاد عبدالعلي مزاري دبیرکل حزب وحدت اسلامي و محترم دگرجنرال همایون فوزي قوماندان عمومی نیروهاي جنبش ملي درکابل اشتراك ورزیده بودند .

منبع افزود: درین دیدار پیرامون اوضاع سیاسي - نظامي کشور بحث وتبادل نظرصورت گرفت وتصامیم لازم در زمینه اتخاذ گردید.

به علت مخالفت با مسعود:

سه تن از جنرالان اداره ائتلافی ازکاردست کشیدند

کابل - ٦ عقرب :

سه تن ازقوماندانان وجنرالان اداره ائتلافي به علت مخالفت بامسعود ازادامه همکاري باوی خود داری نمودند رادیو پیام آزادی به نقل ازیك منبع موثق ونزدیك به گروه شورای نظار گزارش میدهد : بعداز آنکه جنرالان اداره ائتلافي به شکست قطعي شان پی بردند ، به مسعود سردسته گروه نظار مشوره دادند تاازمقاومت ولجاجت بیهوده درمقابل نیروهای شورای عالي هماهنگي دست بردارد وباعث ویراني وخونریزی بیشتر درکشورنگردد.

منبع افزود،تورنجنرال شمس الرحمن

ص(٣)

براساس اظهارات یک خبرنگارخارجي:

تونل سالنگ به علت تهدید احمد شاه مسعود بروي ترافیك مسدود شده است

مزارشریف - ٦ عقرب :

خبرنگار ایرانی مقیم آلمان اخیرا از شهرهای مزارشریف ، شبرغان ، خنجان وبعضی نقاط دیگر کشور ، دیدن نموده میگوید : آن چیزیکه اکنون بچشم میخورد حکایت ازجنگ سخت وشدید درامتداد جاده سالنگ وشمال کابل دارد، امادر شمال افغانستان که جمعیت زیادی دیده می شود که ازکابل وشهرهای دیگر افغانستان به آنجا رفته اند و جمعیت شهرکه دوسال قبل (٧٠) هزار نفرنفوس داشت اکنون به دوملیون وپنجصد هزارنفر افزایش یافته است .

درشهرمزارشریف هیچگونه مشکل غذایی وجود ندارد و بازار مملو ازمواد غذایی بوده وهمه چیزپیدا میشود ، اما قیمت هاخیلي گران است وخریداری مواد ضروری برای اکثر باشنده گان مزارکه ازولایات دیگر افغانستان آمده اند ، با مشکلاتی همراه است .

ص(٣)

محمود مستیري با مسعود ملاقات کرد

جبل السراج - ٦ عقرب :

محمودمیستری روزجمعه با احمدشاه مسعود سردسته شورای نظار درجبل السراج ملاقات کرد .

گزارش خبرگزاری ها حاکیست مستیری اعلان کرد : درین مذاکرات پیشنهاداتي به منظور تشکیل کمیته اي که بتواند یك کمیته انتقالي را انتخاب کند ، مورد بحث وبررسي قرارگرفت .

افغانی ژورنالستانوپه حیات آبا دکی دنجات سنترڅخه لیدنه وکره

په نجات سنترکي د(٧) میاشتوماشوم په شمول (٣٦) تنه معتادي ښځي تداوي شوي دي

ډاکټر محمد قاسم

پېښور ،حیات آباد د لرم خلورمه :

د پېښور حیات آباد په سیمه کي یوشل بستریزه روغتون (نجات سنتر) تقریباً د خلوروکلنو راسي د هغه هیوادوالو د بیا رغوني په خدمت بوخت دي کوم چي په مخدره موادو معتاد شوي .

نوموري روغتون چي نه لوحه لري او نه شهرت دیوشمیر بانجربه ډاکټرانو تر اشراف لاندي اداره کیږي .

له حیات آباد څخه دشهادت خبریال په خپل ریوټ کي لیکي : یوشمیر افغاني ژورنالستانو ته ددي زمینه برابره شوه چي د چهارشنبي په ورځ ورروسته له غرمي دنجات سنترڅخه لیدنه وکري.

په ریوټ کي لیکل شوي : کله چي افغاني ژورنالستان دنجات سنتروداني ته داخل شول نود روغتون عملي د دوي هرکلي وکړ.

د نجات سنتر یو تن مسئول (ډاکټر محمد قاسم) په پیل کي ژورنالستانو ته دنوموري مرکز دترکیب ،فعالیت

(٣)مخ

اندونیزیا افغانها را به صلح دعوت کرد

جاکارتا - ٦ عقرب :

اندونیزیا رهبران افغان راجهت برگزاری مذاکرات به منظور استقرار صلح وثبات درافغانستان به جاکارتا دعوت نموده است .

گزارش خبرگزاری ها حاکیست : عبدالغنی سفیر اندونیزیا درکابل روزپنجشنبه ضمن دعوت از رهبران افغانی اظهار داشت،وظیفه اوکمك سریع پروسه استقرار صلح وامنیت درافغانستان است .

عبدالغنی گفت : رئیس جمهور کشورش بوی دستور داده که همه رهبران افغان را جهت انجام مذاکرات به اندونیزیا دعوت نماید تا بدینوسیله طرق

ص(٣)

اداره ائتلافي به ازبکستان هیئت میفرستد

کابل - ٦ عقرب :

اداره ائتلافي خواستار انجام مذاکرات مستقیم بامقامات جمهوری ازبکستان شده و اعلام داشته که این مذاکرات بخاطر رفع اختلافات فیمابین وتحکیم روابط میان دوملت صورت میگیرد .

گزارش رادیوی ایران حاکیست : وزارت خارجه نام نهاد اداره ائتلافی طي بیانیه ای که یك نسخه آن توسط روان فرهادی گماشته این اداره در سازمان ملل تسلیم دفتر منشي عمومی شده چنین پیشنهادی را مطرح نموده

دبوسنیا له شمال لویدیځ څخه صربان تیښته کوي

بوسینا - د لرم ٦ نیټه

وروسته له هغه چی د بوسینا هرزوګوینا حکومتی قواؤو په شمال لویدیزه برخه کی دصربانو څخه په تیول شوو سیموکی خپل سنګرونه کلك کرل په زرګونو صربان ددغي سیمي څخه د تیښتې په حال کی دی .

په ریوټ کی ویل شو ی چی د حکومتی قواؤو د حملی نه وروسته له دغی سیمی څخه اوه نیم زره صربان

(٣)مخ

جنرال دوستم درگفتگو با جمعي از خبرنگاران :

درمذاکرات صلح باید همه رهبران کشور اشتراك داشته باشند

عشق آباد ٦ عقرب :

جنرال دوستم رهبرجنبش ملي اظهار داشته که دیدارش با سردار آصف احمد علي وزیر خارجه پاکستان درحل قضیه افغانستان و پایان بخشیدن به دشمني ها ودرگیري هاي جاري درین کشور اثرخوبي بجا خواهد گذاشت .

به گزارش خبرگزاري رسمي پاکستان ، جنرال دوستم که درعشق آباد شب پنجشنبه با خبرنگاران صحبت مي کرد، گفت : یکي از پیشنهاداتش اینست که سایر رهبران افغاني باید درمذاکراتیکه بخاطراستقرار صلح درکشور برگزارمیگردد ، اشتراك داشته باشند.

وي افزود : همه مشکلات را میتوان از طریق مذاکره وتفاهم حل وفصل کرد.

جنرال دوستم در پاسخ به یك سوال چنین پاسخ داد که وي همیشه از تلاشهاي صلجویانه در افغانستان

ص(٣)

امریکا خواستار خاتمه درگیري هادرافغانستان شد

واشنگتن ٦ عقرب :

امریکا نیز همچون سازمان ملل متحد خواهان پایان دادن به زدوخورد درافغانستان شده است.

به گزارش خبرگزاري ها ، وزارت خارجه امریکاگفته است که باید جلوگیري ازارسال موادغذایي به کابل پایان داده شود. این وزارت خانه ازمقامات افغانستان خواسته است ازتلاش هایي که هیئت صلح سازمان ملل متحد براي دست یابي به راه حل سیاسيِ صلح آمیز انجام میدهد ، حمایت کنند.

دولت امریکا دربیانیه اي که انتشار داده ، گفته است : در افغانستان طرفهاي متخاصم بدون توجه به جان مردم براي کسب قدرت مبارزه میکنند.

درین بیانیه همچنان نسبت به وضع بدمردم افغانستان ابراز نگراني شده است.

مارشال فاروق فیروز

فاروق فیروزخان دپاکستان د دریوارو قواوو د لویو درستیزانو رئیس وټاکل شو

اسلام آباد :

د پاکستان د دفاع وزارت په یوی اعلامیې کي ویل شوي چی د پاکستان جمهور رئیس (فاروق لغاری) دهوایی قوا وو مارشال عباس خټك د روان کال دنومبر دمیاشتی په نهمه د پاکستان د دریواروقوا وو (ځمکني ، بحري ، هوائي) د لویو درستیزانو رئیس تاکل شوي .

پاکستان د هوایي قوا وو لوي درستیزمقررکړ ي .

همدا راز د هوائي قوا وو پخواني لوي درستیزمارشال فاروق فیروزخان د

دهوایي پوځ مارشال محمدعباس خټك د هوایي قواوو لوي درستیز مقررشو

محمد عباس خټك د ١٩٤٣ ع کال د جولاي په ١٩ مه په پېښور کي زیږیدلی او ٣١ کاله یی د پاکستان په پوځ کی خدمت کړي .

(٣)مخ

مارشال محمد عباس خټك

سرمقاله

د سراومال په تالان به دواکمنتیا دا لړی ترکومه دوام ولري ؟!

دملت له رای سره سم د اسلامي حکومت قایمیدل دربانی د سوالي ، ناروا او غیرقانونی اداري د زوال له پاره یو سترچلنج دي چی له همدي امله هغه د اسلامي حکومت پرځای په واك باندي پاته کیدوته ترجیح ورکوي او دا دځان او واکمنی د پایښت او بقا له پاره د ژغورني غوره لاره ګني ، خوکه د ظاهري (فزیکی) جوړښت له پلوه رباني ته وکتل شي نو داسي بریښی چی نه رباني دهیواد درواني ګډي ودي وضعي د دومره سترو کړاو ونودتحمل اوزغم پیتي پرخپلوباریکو اوږو وړلاشي اونه یې داسی کولوته زړه ښه کاوه څکه دتیرو وختود زړه نرمی او عاطفي ریکارډ یې ښئي چی ربانسي به له داسي زړه دردوونکو روانو حالاتو څخه خواشیني اوناراضه وي ، خوهغه ائتلافي اندیوالان یې چی غواړي د ده تر نامه لاندي پرتنیوحالاتواو وضعی دحاکمیت او برلاسي مینډلو په خاطر د لوبغاړی مډال ترلاسه کړي د رباني په وینه او رګونو کی داسی ځان ځای کړی چي د ژوند ټول حرکات اوسکنات یې دخپلې افسونګری په کړي کی را ایسار ساتلی دی .

خو د ائتلافی اداری مشر رباني هم دخپلو ائتلافي اندیوالانو ترمنتراوجادو لاندي تردی حده رسیدلی چی د واك پرقمارد هیواد د اوسیدونکو پرسردو اوهرډول ناروا سود اکولوته ملاتړلی ولاړدی چی د دی ادعا دثبوت له پاره څه د پاسه دوکلنه تیره دوره او په اوسنیووختوکی دسولی دهیئتونو او دملګروملتو د هڅو نفي کول یې څرګنده بیلګه ده .

که پر واك باندی دقبضی کولو او پرملت باندی په زور دتپل شوي جبری حاکمیت خبره نه وي اوله ملت سره د تریګنی دسنګر نیو لو او پرهیلو اوارمانو ټوپی دخاورو اړو لو خبره نه وی نو بیا ولي رباني دملت له انتخاب اورایی څرګند ولو څخه ویره لري ، که ځان د ملت منتخب نماینده بولي نو بیا د انتخاباتو له پروسي سره دښمني او ضدیت څه معنی لري ؟!

که ځان د یوي اسلامي ولی مشر ، دجهاد دلیکی پیرواوهم په دی لاره کی دځه ناځه ستونزو متحمل بولي نوبیا ولي له اسلامي ریاست ، اسلامي قانون او دجهاد پرثمراتو دخپلی انحصاری اوځانپالنې واکمنی په خاطریی پری خاوری وارولي او لګیا دي په دی لاره کی له هیڅ ډول سپین سترګی څخه ډه هم نکوي ، دا څومره غاصبانه اوله عاطفي لیري عمل دی چي رباني او د ائتلافی اداری اندیوالان یې په ډیره بیباکی او بیرحمي سره ترسره کوي

له ربانی سره به دا ومنو چی واك او قدرت ډیرخوږ او دانسانی فطرت د تقاضا اوغوښتنو معراج دی خوبه دومره کچ هم بکار نه ده چی د واك له ګدی نه د میلیونونو انسانانو ژوند لوګی او دانساني اقتدارپه ارزښتونو دي غوبل وشي لکه نن چی د ائتلافي اداري له خوا دګرد ملت په مادی اومعنوی بیګنواوارزښتونولو به جوره او پښی پری ایښودل کیږی .

ګورو چی امریکایی امپریالیزم د یهودی (ا سرائیل) موجودیت اوپرعربی نړی دهغه په رسمیت پیژندنه اوهم یی د ارام اوسوکاله ژوند په خاطر بل کلنټن منځیني ختیځ ته متده وکړه خو رباني دخپل ملت د ارامی او سوکالی له پاره دجهادي قیادتونو اوځواکونو سره خبرو اتروته لیدوته نه دی تیار، اوس به په دی هکله قضاوت اومنځګړیتوب رباني او د هغه [illegible]

(٤)مخ

مونږ دافغاني مشرانو ترمنځ هیڅ نوع فرق ته قایل نه یو

بي نظیربوتو

عشق آباد د لرم - ٦

د رارسیدلي ریوټ له مخي د پاکستان صدراعظمه چی د ترکمنستان په دوره تللی پرون شپه په هغه ملمستیاکی برخه واخیسته چی د ترکمنستان جمهور رئیس نیازوف له خوا ددی په ویاړ ترتیب شوی وه .

نوموری په دغه ضیافت کی وویل چی مونږته ټول افغانی مشران یوشان دی او دهغوی ترمنځ هیڅ نوع فرق ته قایل نه یو .

ریوټ زیاتوي چی د پاکستان صدراعظمی بی نظیر بوټو په افغانی مشرانو غږوکړ چی دخپل هیواد لانجی دی دخبرو اترو له لاری حل وفصل کری .

دیویل خبرله مخی بینظیر بوټو دترکمنستان مرکز عشق آباد کي د جنرال دوستم او اسمعیل خان سره هم په جلا جلا توګه کتلی او دهغی تجارتی لاری په اړه چی منځنی آسیا هیوادونه د پاکستان سره وصلوی خبری اتری کری .

خبرزیاتوی چی د پاکستان صدراعظمی جنرال دوستم او اسمعیل خان ته داډ ورکړ چی د پاکستان حکومت د افغانستان په اوسنی لانجه کی بی طرفه دی . اوغواړی چی دغه لانجه د افغانانو ترمنځ دسولی او تفاهم له لاری حل اوفصل شي

(٣)مخ

به علت تظاهرات گسترده مسلمانان درسرزمین هاي اشغالي :

کلنتن نتوانست ازبیت المقدس شرقي دیدارکند

بیت المقدس - ٦ عقرب :

کلنتن رئیس جمهور امریکا بعداز دیدارازسوریه وارد سرزمین هاي اشغالي فلسطین شد.

گزارش خبرگزاري ها حاکیست مسلمانان فلسطیني باناديده گرفتن اقدامات امنیتي رژیم صهیونستي ،به جاده ریخته و با سردادن شعار هاي ضد صهیونستي وضد امریکایي دست به تظاهرات گسترده زدند .

تظاهرات درشهر نابلس درکرانه غربي رود اردن به درگیري شدید میان مسلمانان فلسطیني ونظامیان اسرائیلي که در صدد بر هم زدن تظاهرات بودند ، منجر شد و صهیونیست ها با آتشباري مستقیم به سوي تظاهر کنندگان چهارتن از آنها را زخمي کردند.

تظاهرات روز جمعه مسلمانان فلسطیني در حالي صورت گرفت که مقام هاي رژیم صهیونستي ضمن ممنوع اعلام کردن هرگونه تظاهرات ، هزاران ماموران امنیتي ،پولیس ونیرو هاي

ص(٣)

به تعقیب دیدار حافظ الاسد وبلکلنتن :

سوریه به خروج کامل نظامیان اسرائیلي از سرزمین هاي اشغالي تاکید کرد

دمشق - ٦ عقرب :

حافظ اسد رئیس جمهور سوریه هرگونه سازش با رژیم صهیونستي رامنوط به عقب نشیني نیروهاي اشغالگر اسرائیل از اراضي مسلمانان بخصوص بلندي هاي جولان وجنوب لبنان دانست .

رادیوي ایران به نقل ازگزارش رسیده از بیروت گفت: حافظ اسد که دریك کنفرانس مطبوعاتي مشترك با بلکلنتن رئیس جمهور امریکا در دمشق درپایان دورگفتگو هاي خصوصي خود باوي سخن مي گفت تاکید کرد: مابراي "دفاع از"حقوق وسرزمین خودصدها هزار شهید داده ایم . وي همچنین ضمن رد ادعاي کشورهاي غربي مبني برحمایت اینکشور از تروریزم افزود: مسئله تروریزم یکي ازموضوع گفتگو هایش بابل کلنتن بود.

شهادت

سخن روز

دسولي تر پردي لاندي د عربو دغلامولو پلان

عبدالشافي

تيره ورځ كله چي د اردن په پايتخت عمان كي د امريكاد جمهور رئيس بلكلنټن ترنظارت لاندي داردن پاچا شاه حسين او داسرائيلو صدر اعظم اسحق رابين دسولي پرمعاهده لاس ليك وكړ نو كلنټن وويل چي امريكا به دسولي اوامن له پاره خپلي هلي ځلي جاري وساتي ، هغه خبرداري وركړ چي امريكا به دهغه چا په خلاف كلك ګام پورته كړي چي د سولي په وړاندي خنډونه آچوي سبا ته يي بلكلنټن سوريي ته هم سفر وكړ اوهلته يي دهغه هيواد د صدر حافظ الاسد سره خبري اتري وكړي او هغه يي ديته وهڅاوه چي ژر تر ژره له اسرائيلو سره دسولي پرمعاهده لاس ليك وكړي . دشام صدردسولي دقيام له پاره دګولان له غرونو څخه داسرائيلو وتل لازمي وګڼل او وي ويل ، موږله اسرائيلو سره پدي شرط سولي ته چمتو يوچي اسرائيل خپل عسكر دګولان له غرونو څخه چي په ۱۹٦٥ كال يي نيولي وو بيرته راوغواړي او هغه يهودان هم چي دګولان په غرونو كي ميشته شوي اوكوروته يي جوړكړي دي ولاړشي حافظ الاسد بل كلنټن ته وويل چي موږپه هر حال له اسرائيلو سره سوله غواړو او زموږ لاره سوله ده له سوريي نه د ليدني كتني وروسته بل كلنټن سيده اسرائيلو ته لاړ او هلته يي په يوه وينا كي وويل : دكوم مقصد له پاره چي موږ په موډومودو هلي ځلي كړي وي دهغه ثمرتور په راغونډيدو دي شام ، اونورعربي هيوادونه به خامخا د اسرائيلو پر شرائطو سوله كوي اواسرائيل به دخپلي خوښي مطابق په عربو شرايط مني بل كلنټن دا هم وويل چي امريكا به په سيمه كي داسرائيلو پوځي برتري جاري ساتي اوهيڅ عربي هيوادته به ددي اجازت نه وركول كيږي چي په اسرائيلو پوځي برلاسي ومومي ، دكلنټن د پور تنيو خبرواترونه په صفا اوځرګنده توګه معلوميږي چي امريكا پدي سيمه كي يواځي او يواځي داسرائيلو د برلاسي كولو اودعربانو دغلامولو اوختمولو پلان لري هغه په حقيقت كي دسولي اوامن ترپردي لاندي دخپل حرامي اولاد (ديهودانو) حاكميت غواړي ترڅو پدي سيمه كي امريكا ديهودانو په واسطه خپل استحصالي نظام ته ادامه وركړي .

اوداسي ځوك پيدانشي چي په خلاف يي ګام پورته كړي ، امريكا دامن اوسولي په خوږوالفاظو عرب په يوه داسي لومه كي ننښلول غواړي چي دهميش لپاره يي ښكاركړي ليكن له بده مرغه عرب ددي پرځاي چي دخپلي آزادي اوبقا په خاطر د امريكااواسرائيل له لوري په خوره شوي لومه كي ونه نښلي او له داسي سولي نه انكاروكړي چي سراسر دعربوپه نقصان ده.

برعكس په غريدلو سترګو لګيادي خپل ځانونه تهلكي ته آچوي ، دكلنټن او داسحق رابين له خبرو اواظهاراتونه په صفاتوګه معلوميږي چي هغوي دسولي په نوم په عربو خپل سياسي اوپوځي تسلط قائمول غواړي څكه چي يو طرف ته هرځه داسرائيلو په شرايطو منل كيږي بل داچي پوځي بري اوبرلاسي به خامخا اسرائيلوسره وي او هيڅ عرب ته به ددي اجازه نه وركول كيږي چي كم له كم له اسرائيلو سره برابري قدري وكړي شي . دحيرانتيا اوتعجب خبره داده چي آخر عربي هيوادونه په داسي سوله څه ګټه ترلاسه كولي شي ؟ لدي نه پرته چي پخپل لاس خپله ازادي او اختيارات سلب كړي.

او دسولي دمعاهدو په رڼاكي يهودان په آزادانه تګ راتګ خپل شيطاني پلانونه اوحربي نوري هم ګړندي كړي اوهغه څه چي تر پرونه پوري يي د جنګ له لاري ترلاسه كول لدي نه پس دسولي ترپردي لاندي په اسانه توګه لاس ته راوړي بل هيڅ ګټه نلري ،

عربي هيوادونوبه د ژوند په اوږدوكي ليدلي وي چي د اسرائيلو په قوي كولو اودعربو د كمزوري كولو په لړكي امريكا تول عمر كاركړدي كه امريكا داسرائيلو تر شاه ولاړ نه واي او له هغوي سره يي پوځي اواقتصادي مرستو نه واي كړي نو اسرائيلو دعربوپه خلاف نه يواځي د جنګ توان نه درلود حتي چي دخپل موجوديت دساتلو قدرت هم ورسره نه و، همدااامريكا وه چي اسرائيل يي په نظامي اواقتصادي ميدان كي مضبوط كړل چي نن په عربو د يهودانو غيرقانوني حكومت چي په تل ابيب اوبيت المقدس كي د اوسيدو له پاره يوه لويشت ځمكه يي نه درلوده نه يواځي دمستقل دولت او حكومت په شكل مني بلكي عرب ديته هم واداره كوي چي ديهودانو برتري په ځان ومني ،كه عربان دعزت ژوند تيرول غواړي په دنيا اوآخرت كي دسرلوړي او قاراوچت مقام ګټل يي مطلب وي نوپكاردي چي په اسرائيلو كي دامريكا اواسرائيلو دمشرانو له دغو وهاوو څخه چي سوله به خامخا داسرائيلو په شرايطو كيږي اوپه سيمه كي به داسرائيلو پوځي برتري ضرورساتل كيږي داحتجاج په توګه له امريكا سره خپل ارتباط وشلوي .

اوله اسرائيلو سره له هر ډول سولي نه ډډه وكړي ځكه چي پداسي كولو سره به يوطرف ته عربو خپل استقلال ژوندي ساتلي وي اوبل طرف ته به اسرائيل دسولي ترپردي لاندي پدي ونه توانيږي چي له جنګ اوتلفاتو وركولو نه پرته خپل شوم مقصد ترلاسه كړي .

عربي هيوادونو ته پكاردي چي له اسرائيلو سره دسولي معاهدي لاس ليكولو نه مخكي ډير زيات فكر اوغوروكړي اوهغه شرايط ونه مني چي دعربو دكمزوري كيدواويا په راتلوونكي كي ياستقلال ته دنقصان رسيدوباعث وګرځي كم له كم بايد دبرابر ي پربنياد دي ورسره معامله وكړي .

اوضاع ايالت خودمختار بدخشان همچنان متشنج است

شهر دوشنبه – ٤ عقرب :

موتر حامل كارمندان وزارت امنيت تاجكستان در حومه شهر فاروق مركز ولايت خود مختار بدخشان هدف حمله افرادمسلح قرارگرفته كه درنتيجه يكتن از كارمندان اين وزارتخانه كشته شده است.

گزارش خبرگزاري رسمي تاجكستان با نشر اين خبر افزود : يك تانك سربازان روسي بايكعراده موتر ملكي تصادم نموده است .

همچنان در ايالت خود مختار بدخشان درگيري هاي پراگنده نيزجريان داشته و اوضاع ناآرام گزارش شده است.

رياست شوراي نمايندگان اين ايالت درقلمرو تحت كنترول خود محدوديت هايي وضع كرده است.

درحاليكه كمتر از يك هفته به برگزاري انتخابات رياست جمهوري درتاجكستان باقيمانده ، اين ايالت نمايندگان خود را معرفي نكرده است واحتمال ميرود انتخابات را تحريم كند .

خيانت ملى ديگر وضرورت مبارزهٔ قاطع عليه آن

صفير

به اعتراف تحليل گران امور اقتصادي، افغانستان اززمره' فقيرترين كشورهاي جهان است كه تورم پولي درآن به بلند ترين سطح خودرسيده است ،تاحدي كه براي خريدن يك خريطه صدكيلويي آردبايد چندين كيلوپول هاي بي پشتوانه' پنجاه وياصدافغانيگي را پرداخت . امروز دردادوستدروزمره كمتركسي حاضر مي شودكه نوتهاي پايين تراز پنجصد وياهزارافغانيگي رابپذيرد .

بعدازرويكارآمدن اداره' ناميمون ايتلافي نه تنها مسكوكات فلزي مروج بلكه نوت هاي ده افغانيگي وبيست افغانيگي نيز ازبازار معاملات خارج گرديد .

تجربهٔ روسيه بعداز گورباچوف اكنون درافغانستان تكرارمي شود . پس ازشكست واضمحلال امپراتوري جابرانه' شوروي وركوداقتصادي ناشي ازان، بانك نوت هاي پنج هزاروده هزارروبلي وارد بازارگرديد وارزش برابري روبل دربرابر اسعار خارجي شديداً سقوط كرد.اينك ارباب وابسته ومزدور ايتلاف نيزبه تبعيت ازمسكومي خواهدنوت هاي پنج هزارافغانيگي وده هزارافغانيگي را وارد بازارهاي كشور نمايند وآخرين رمق را نيز از اقتصادبيمارمملكت بگيرند .

طوريكه بارها گفته شده است روس هاي شكست خورده كه تاكنون اززمين سياه وتنگين سقوط قامت بلند نه كرده اندباچاپ وارسال بانكنوت هاي بي پشتوانه به اداره' ائتلافي برهان الدين مي خواهند ازملت شهيد پروروآزادهٔ ما انتقام بكشند .اضرار مهلك ناشي ازاين عمل روس ها برحيات اقتصادي سياسي وحتي اخلاقي جامعه' مابي نيازازاثبات است . اقتصادمملكت به كلي فلج شده است. اداره' ايتلافي بااستفاده ازفقرروبه تزايد مردم باتوزيع پول هاي بي پشتوانه به استخدام ناگزيرازفرزندان آنان درجبهات جنگ نامقدس وغيرمشروع عليه مجاهدين مخالف خودپرداخته وفجايع بي شماري رادركشور آفريده وتاهنوزاين سلسله هم چنان ادامه دارد . اضافه از بيست مليارد پول هاي بي پشتوانه چاپ مسكوكتها وتنها به غرض مقاصد جنگ توسعه طلبانه وتحميلي براحزاب وگروه هاي مخالف به ويژه حزب اسلامي افغانستان به مصرف رسيده است . بيكاري روزتارزبيشتر گرديده وتمام نهاد هاي اقتصادي كشوربه وسيلهٔ تفنگداران بي فرهنگ وچپاول گربه يغمابرده شده است .سيل پول هاي بي پشتوانه باعث اختلافات عميق سياسي وحتي عامل تهديد مستقيم به وحدت ملي كشورماگرديده است .

ازنظر اخلاقي نيز طراحان خاين ادارهٔ ائتلافي شيرازهٔ معنوي جامعه' مارا شديداً خدشه دارساخته اند. رباني ،سياف، مسعودوجنرالان كمونيست باتوزيع پول هاي بي پشتوانه درميان مجاهدين ،علماوسران قومي،آنان را عليه يكديگر وادامه' صف آرايي ساخته وهمه ارزش هاي معنوي منجمله قول وقرارهارا زير سوال برده اند ، اين آقايان ازروش اسلاف كمونيست شان دراستخدام وسربازگيري ازجامعه تابع هيچگونه ضابطه' اخلاقي نيستند ،جرايم اعتياد به قمار،دزدي ، اختطاف وباج گيري از اعمال روزمرهٔ تفنگداران شوراي نظار، جنرالان كمونيست ، مليشه هاي سياف وديگران به شمارمي رود .

آري خوانندهٔ عزيز! اينك بعدازآن همه جفا به وطن واسلام وخيانت به آرمان صدهاهزار شهيد مظلوم جهاد ، ادارهٔ منفور ودرحال مرگ برهان الدين دست به ارتكاب جنايت هولناك ديگري عليه مردم وجهاد سترگ مايازيده است ومي خواهد برزخم هاي بيكران ملت بلاكشيده' مابازهم نمك بپاشد ،انتشارخبربه بازارآمدن بانك نوت هاي پنج هزارافغانيگي وده هزارافغانيگي براي يك باردیگر نقاب ازروي باند انحصارطلب برهان الدين ،سياف ،مسعودوجنرالان كمونيست' برداشت، آنان مي خواهند به هرقيمتي كه شده است دست ازقدرت دروغين برندارند .مردم آگاه وبادرد مابه خوبي به يادداردنكه درطول بيشترازدوسال گذشته اداره' ايتلافي با توزيع پول هاي بي پشتوانه' چاپ مسكو چه جناياتي نبود كه درحق مردم وجهاد باعظمت مامرتكب نه گرديد.چه قوماندانان نامور جهادي نبودكه بوسيله' همين حربه' روسي به شهادت نه رسيده وياهلاك نه شدند. چه خون هايي نبودكه بخاطر حرص وآزبرهان الدين،سياف ومسعود خاين برزمين نه ريخت. بلي اينها هنوز بسنده نه كرده اند وتازه درصدداند تاپنج ، ده وياصد چندجنايت ديگر را بوسيله' همين پول هاي بي پشتوانه وفاقد اعتبارملي وبين المللي براي بقاي خويش درمسندروغين قدرت،مرتكب شوند.

آنان مي خواهند با چاپ پول هاي بي پشتوانه دريك كمپني آلماني گويا لكه' ننگين وابستگي به روسيه را ازجبين خود بزدايند ومخالفان خودرا ازاين ناحيه به اصطلاح خلع سلاح نمايند .

به عقيده' برخي ها اداره' ائتلافي تلاش ميورزد تابارويكار آوردن اين بانكنوت هاي جديد،برخيانت عظيم ملي خود مبني برچاپ وتوريد پول هاي بي پشتوانه ازماسكوپرده انداخته و درخفا به تسلسل وادامه' آن هرچه بيشتر بپردازد .

نشروتوزيع نوت هاي پنج هزاروده هزار افغانيگي ازنظر كميت وانتقال آن نيزبراي اداره' ائتلافي حايزاهميت است زيرابجاي انتقال يك سانچه يك مليوني مي تواند اكنون پنجاه وياصد مليون افغاني رابهاعين كميت به افراد ،اشخاص وياگروه هاي مزدور ايتلافي منتقل نمايد.

ازنظر ترانسپورتيشن هوايي نيز كارانتقال بانكنوت هاي پنج هزارافغانيگي وده هزارافغانيگي نسبت به نوت هاي پنجصد افغانيگي و هزارافغانيگي آن هم از آلمان اقتصادي تر بوده ودرعوض مي توانند باتوريد يك تن بانكنوت هاي اولالذكر كار پنج ويا ده تن بانكنوت هاي

ص(۳)

دافغانستان دستونزي د حل په اړونه :

دحزب اسلامى دسولى وړانديزونه په ملى اوبين المللى مستوى دتائيد وړګرځيدلى

شمس الرحمن

پدي واقعيت به هر با ايمانه او له هر دول شيطاني تعصب څخه خالي هيوادوال راسره يوه خوله اوسلا وي چي حزب اسلامي ښه روښانه مبارزوي اوجهادي تاريخ لري . ددغه تنظيم خداي پرست اومجاهد قيادتونه د وخت او زمان د جابرو اوعياشو حكومتونو دتاخوالو له امله دتورو زندانونو كوټو ته تيل وهل شوي په وينو يي ديوالونه رنګ اوبالاخره په شهادت رسيدلي دي، همدا لامل و چي همغو صالحوقيادتونو دوخت دبي ايمانه او كاواكه حكومتونو د بي لاري په مقابل كي دحق آواز جګ كړي او پدي لار كي يي ځانونه هري قرباني ته تلړانه كړي ؤ. چي نن دافغانستان په اسلامي تاريخ كي دهغوي نومونه په زرينو كرښو ليكل شوي اوګڼ شميرهيوادوال دهغوي دلاري لارويان ګرځيدلي اودهغوي نه هيريدونكي جهادي او مبارزوي كار نامي يي تازه ساتلي دي . ارواه يي ښاده اوبياديي دي تل وي.

له نيكه مرغه چي دهغه وخت دظالمو او جابرو حكومتونو دساتول څخه دمبارزواومجاهدو قيادتونو له دلي څخه د حزب اسلامي امير وروور حكمتيار سالم راوتلي او ددغه ټيك نام اومجاهد تنظيم دسالمي رهبري كولو لپاره يي له هيڅ دول قرباني څخه مخ ندي اړولي اودغه تنظيم يي دقرآن اومحمدي غرا شريعت داساساتو او ارشاداتو په رڼاكي رهبري كړي چي ځرګنده بيلګه يي په افغانستان كي د متجاوزو روسانو په مرسته د كمونستي كودتا اوبياد مستقيم تجاوزپروخت دهغه په مقابل كي د افغان مومن اولس راولاړول اودهغه سره كمونستي سره سيلاب د وروستيو خطرناكو عواقبو څخه دملت په خبرولوكي له ورايه ښكاري . د حزب اسلامي مجاهد امير دغه دجهاد اومبارزي سرلاروي تنظيم هسي رهبري او تنظيم كړي چي روسان او نور اسلام دښمنه قوتونه يي په حيرت كي اچولي اواسلامي نړي دهغو په كارنامو افتخار كوي.

دځوارلس كلن جهاد په دوران كي ښكاره خبره ده چي كمونستي ځواكونه دحزب اسلامي له باتورو غازيانو سره دجنګ په ډګركي تل له رسوا ماتي سره مخامخ شوي ،قيادت يي د هيڅ دول سازشونو اودسيسو ښكار شوي ندي ، دكفري واكدارانو هر دول غوښتن ليكونه يي په ډاګه رد كړي او بالاخره د قرآن دارشاداتو له مخې يي خپل ځان ددغه غټ اودرانده مسؤليت څخه په بريالي توګه د ايستولپاره وقف كړي دي . داخبري به له حقيقت څخه څكه لېري نه وي چي تاسي ددي خبري شاهد ياست چي كمونستانو اودكفري نړي واكمنانو دخپلو شومو تبليغاتو اوپروپاګندوخوله دحزب اسلامي په قيادت پسي خلاصه كړي .

اوتل يي د شومو تبليغاتو اوپروپاګندونښه حزب اسلامي ګرځيدلي دي دغه راز دجهاد په موده كي كله هم د بل چا په لار كي ماين كاري اوتوطيې كارول شوي لكه دحزب اسلامي دمجاهد قيادت په مخ كي چي په لس هاو دغه دول بي شرمانه او خائنانه عملونه سر ته رسيدلي دي په هر حال څه چي عيان دي دهغي بيان ته حاجت نشته .خوموږ پدي وياړو چي دحزب اسلامي قيادت په تولو جهادي خبرو كي يواځيني قيادت دي چي د داخلي او بهرني دښمن دچلوتواودسيسو ښكارشوي ندي ،دسازشونو لاربې په كلكه غندلي له همدي امله تول دښمنان ورځني په ډاګه سرټكونه كوي خو په مقابل كي يي له هر چا نه زيات مومن هيواد وال دهغه په ځنګ كي ولاړ او ملاتړ يي كوي چي دا هم د حزب اسلامي معقوليت ثابتوي .

كه د ځوارلس كلن جهاد له دوري را تيرشو او په كابل كي دكمونستي نظام د نړيدو له نيتي څخه دحزب اسلامي فعالي وندي او سر ښندنو ته نظرواچوو ،دا داداواطمينان رابخښي چي حزب اسلامي يواځيني تنظيم دي چي دملت په درد دردمند اوپه سوكالي يي خوښ دي ، تل يي په خپلو اعلاميو اوتګلاره كي په ډاګه كړي چي حزب اسلامي دخپلو نه ستړي كيدونكو هلو ځلو په نتيجه كي يواځي په هيواد كي د سوچه اومنتخب اسلامي حكومت دناقذيدو غوښتونكي دي ، دزوراو كودتا ګانو له لاري قدرت ته رسيدل نه غواړي اودغه عمل په كلكه غندي ، تل يي ددي غمجن ولس دسوكالي او جنګ بنديدو د پروسي په برياليتوب كي فعاله ونده اخيستي اوعملاً يي پدي اروند خپل نظر ځرګند كړي دي . كه ځوك بيا د جنګ او جدل د پيښيدو ملامتي اوپروپاګند لګه پورته مو چي ا شاره ورته كړي په حزب اسلامي پوري تړي دابيځايه تبليغات او له واقعيت څخه لېري خبره ده او دقدرت ميئان او ځان ځوښي څبري له دغو پروپاګندو څخه د بې رعيته پادشاهي دعمر د اوږديدو لپاره ناوړه ګته اوچتوي . نن داحقيقت هر چا ته په ډاګه شوي چي جنګ تل په حزب اسلامي باندي تحميل شوي او حزب اسلامي دځان څخه د دفاع په خاطر دهغي ځواب ويلي او دمتجاوزو اونقابداره څبرو ځولي يي دځاورو ورډكي كړي دي. تاسي وګوري له هغي ورځي ته چي د كابل تش په نوم شاهي ارګ ته د جاه طلبو ، تنظيم پرستواودقدرت ميئانو پښي رسيدلي او پرواك يي د پخوانيو كمونستو جنرالانو په مرسته او مشوري سره متګولي تښلولي ، دا زموږ مظلوم او مجاهد ملت برځاي د دي چي ارمان يي پوره اودځوارلس كلنو هلوځلو اوقربانيو ثمره

(۳)مخ

چرا جلسهٔ سران ائتلاف درمخفيگاه كوه شمشاد به ناكامى انجاميد ؟

فجر

رئيس اداره ا ئتلافي هفته قبل همراه بامشيرش سياف به صورت غيرمترقبه وارد ولايت ننگرهار گرديدند .

گردانندگان ائتلاف ظاهرا انگيزه سفرشان را درنكاتي آتي بيان نمودند .

۱- ما ازطرف شوراى جهادي ننگرهار دعوت شده ايم .

۲- تشكيل يك شوراى بزرگ ويا احياى شوراى راولپندي .

۳- مباحثه ومناقشه باشوراى قيادى .

رئيس اداره ائتلافى باعنوان وتركيزخويش برموارد فوق الذكر ثابت نمودكه زيرپرده اهدافي ديگرى داشته وآنچه برزبان مى آورد نمائندگى ازقلبش ندارد زيرا :

الف : گردانندگان ائتلاف ادعا نمودند كه به اساس دعوت شوراى جهادي ننگرهار عازم اين ولايت شده اند درحاليكه حاجي عبدالقدير رئيس شوراى جهادي ولايت اين ادعا را رد مينمايد واضافه ميكند كه « ما ازكسى دعوت نكرده ايم وآمدن استادان طبق لزوم ديدخودشان صورت گرفته وتاوقتي كه درين جا باشند مهمان ما مى باشند وامنيت شان بردوش ماست » .

راستى هم اگر بيانات گردانندگان ائتلاف ورئيس شوراى جهادى ننگرهاررا باهم مقايسه نمائيم خواهيم ديد كه سخنان رباني وسياف يكسره متناقض، دروغ وخالي ازحقيقت جلوه ميكند درحاليكه درمصاحبه حاجى عبدالقدير وزن وجود دارد به دليل اينكه :

الف : قبل ازورود استادان شوراى جهادي ولايت ننگرهار بايدمطلع مى بودند .

ب : بخاطر اوشان مراسم خاص امنيتى صورت ميگرفت ويالااقل يك يا چند نفر ازاعضاى شوراى جهادي درميدان هوائى ننگرهار حضور به هم مى رسانيدند .

ج : بعد از دو ر وز مباحثه ومناقشه در زير زميني هاى كوه شمشاد عازم شهر جلال آباد گرديده با اعضاى شوراى جهادي ديدار وگفتكو نمودند لهذا اين جلسه بايد به نام جلسم شمشاد نام گذاري گردد .

حالا اگر به دلايل فوق الذكر اندكي تأمل صورت گيرد به خوبى مشاهده خواهد شد كه گردانندگان ائتلاف باموضع متناقض مى خواهند خاك برچشم ملت بپاشند وشكست هاى نظامى وسياسى شانرا توجيه نمايند كه گويا ما به ا ساس دعوت شوراى ننگرهار يك باردیگر حاضر به انعطاف گرديديم درحاليكه سفرشان آنقدر عجولانه ، بى ترتيب وغيرمترقبه بود كه حتي خود شان هم نتوانستند آنرا اصولاً توجيه نمايند .

موقف متناقض ودروغ استادان مذاكرات شانرا به ناكامي مواجه وپرده از اهداف غير معقول شان برداشت تا جائيكه سخنان شان راجع به تشكيل يك شوراي بزرگ ويا لويه جرگه مى باشد موقف شان گنك ، مبهم ومتناقض بهمديگر است وآنرا نمى توان حلال مشكلات دانست لهذا تلاش شان ناكام وبيهوده خواهدبود زيرا :

۱- چون رباني معتقد است تشكيل چنين شورا ويا لويه جرگه تحت سر پرستي حكومت وى صورت گيرد درحاليكه اداره، كه درراس آن رباني قرار داردمورد تنازع اطراف درگيراست

۲- ائتلافيون چگونه به خود حق مى دهند كه ازهرولايت چند نفرمحدود راجمع نموده ويك شوراى انتصابي را بسازند ونتيجه آن همان است كه بارها تجربه شده وبه قتل وكشتار بيشتر زمينه را فراهم ساخته است .

۳- رباني وسياف حكومت عبورى منعقده راولپندى را مثال مى دهند درحاليكه حكومت متذكره بانقايص كه داشت نتوانست حلال مشكلات آن وقت قرار گيرد درحاليكه از انعقادآن شش سال سپرى ميگردد وناممكن خواهد بود كه تجربه شش سال قبل رادرقضاياى امروزى افغانستان تطبيق نمود .

٤- اين پشنهاد سران ائتلاف باعكس العمل شديد شوراي هماهنگى انقلاب اسلامى كه از احزاب ، مليتها واقوام مختلف نماينده گي مى نمايد روبرو گرديد وضمناًرئيس شوراى ننگرهاردرمصاحبه اش با B.B.C نسبت به پيشنهاد سران ائتلاف ابراز شك وترديد كرد طوريكه درجواب يك سوال خبرنگار راديومز بوراظهار نمود كه « مانمي توان برتلاش هاى اين آقايون اعتماد نمود چه همين ها بودند كه يكنيم سال قبل درجلال آباد برسرمسئله يك حكومت موقت به توافق رسيده بودند لاكن بعدها برتعهدات شان ا ستوار نمانده ، نقطه نظر رئيس شوراى جهادننگرهار نشان ميدهد كه اعضاى شوراى اين ولايت كه ازاحزاب مختلف نماينده گى دارند ازعملكرد واخلاص سران ائتلاف چندان دل خوش ندارند .

٥ - آقاى رباني ومشيرش درعين وقت سه موقف را اختيار نموده اند :

الف : بحث ومناقشه با مولوي صاحب خالص ومحمدى بخاطر تشكيل يك لويه جرگه به اصطلاح اسلامى .

ب : اعزام هئيت در پروسه صلح ملل متحد ازطرف جمعيت ومخالفت سياف باطرح ملل متحد .

ج : اين اظهارات رباني كه بايد تمامى جدوجهد ملل متحد درچوكات فيصله هاى هرات صورت گيرد مواقف سه گانه ومتناقض ربانى را برملا مى سازد زيرا اگرهدف آقاى ربانى لويه جرگه نام نهاد هرات باشد پس حاجت به تشكيل شوراي قيادى درجلال آباد واعزام هيت در پروسه صلح ملل متحد براى چه صورت گرفت ؟ واگر بالاى فيصله نام جلسه هرات خط بطلان كشيده پس چگونه اصرار دارد كه بايد تمامى فيصله هاى ملل متحد درچوكات كميسون منعقده هرات باشد ؟!

٦- يكى از ناكامى هاى اين تلاش همانا ناديده گرفتن اراده ملت وانتخاب راه دورو درازى است كه مى خواهند

ص(۳)

دروغجن دریغ اونقابی خیری

محمودي

دادی شپاړلس کاله پوره کیږی چی زمونږ ، غیرتی ،میړنی اومسلمان مجاهد ملت درنگ ،رنگ ستونزو اوکړاوونو سره لاس په گریوان دی.

پرومبی څوارلس کاله یی دقطبی خرسانو اودهغوی دبی وجدانه غلامانو سره په جهاد اومبارزه کی تیرکړی ،کوورنه یی وران شول ، غیرتی اوایماندارو شاه ځلمو یی ځانونه د الله (ج) دحق دین او، وطن څخه ځارکړل، پیغلی یی بی ورووره ،ناوی یی کونډی میندی یی بوری ، مدرسی اوجوماتونه یی شهیدان ،ارمانونه یې تالا ،ترغه ، عالمان اومنورین یی دتورو زندانونو تورو خونو کی دخونخوار ،کمونیزم خوراك شول ،لنډه داچی دیری تودی اوسږی یی دپو پاك اوسپیڅلی هدف لپاره وگاللی ، هجرت یی وکړ اودخپل وطن دآزادی اود حق دین د اعلا لپاره یی په پوره ایمانداری ملا وتړله دا داسی وخت ؤ چی زمونږ د قهرمان اومجاهد ملت داحساساتو ،جذباتو اوعقیدی سهدرپه ځپو شوی ؤ. دنهضت اصیل بچیان د اسلامی انقلاب د وراثت په گدی ناست اودمجاهد ملت دپوره ملاتړ څخه برخمن وو.

دبلی خوا ټول کفری بلاك خصوصا غرب گوته په غاښ اود آینده خلاقت څخه په ویره کی ؤ په ښکاره اوعلنی ډول یی کومه جبهه نشوه جوړولی ځکه چی د جهان مادی سوپرپاور (روس) یوه داسی خپسه وه چی ددوی په مری یی هم دځولی لگولو نیت اوعزم درلود .

خوپه پټه یی داسی نیت بدی درلودله چی گواگی که پدی شان اوجذبه نهضت دبری دا پړاو طی کړی نو دایه یوه اسلامی لویه عقیدوی پایگاه وی اوددی څخه به ټولی کفری ټیکه داری په خطر کی ولویږی.

دهمدی خطر دمخنیوی لپاره یی داسی مناسب ولیدل چی دمؤمن اومجاهد ملت دهمدی احساس اوجذبی څخه په سړ استفاده باید د قوماندان ،مشراولیډر په شکل اوفورم دافغانانو په نوم څوك پیداکړی.

امکانات یی په لاس کی ورکړی ،خبری اوپروپاگندی وسیلی یی په واك اوخدمت کی واچوی . بی ځایه ، بی وخته اوبی ضرورته یی توصیف کړی ، دملت په مینځ کی جعلی اونقابی شهرت اومشهورتیا ورویښی اولکه دکاغذی پیسو تری وخت ناوخته میاو اوباسی .

خو دبلی خوا مجاهد ملت خپل تاریخی رسالت سر ته رساوه اودا تاریخی پړاو طی کیدلو.

د جهاد اوقربانی سلسله په پوره ذوق اوجذبی سره په مخ روانه وه دپوره څوارلسو کالو هجرتونو ،شهادتونو اوقربانیو وروسته یی قطبی خرسان اودهغوی خرځ شوی بریخی دناپودی کندی ته ورگوزارکړل. ددی ازمون څخه ملت په هسکه غاړه بریالی راووت او ملحد حکومت سقوط وکړ. دنهضت اصیلو اومجاهدو بچیانو دوطن په هره دره اوکلی اوبالخصوص دهیواد په زړه کابل کی یی دفتحی شنه بیرغونه

وریپول دهر کور اویام څخه دالله اکبر په کفر ځپونکو نارو بدرگه اوتقدیر شول.

کفری غربی بلاك لادپخوا څخه ددی حالت تحمل نشو کولی اودهمدی وریځی حه په هراس کی ؤنو همدا وجه وه چی دخپلو تربیه شوو لا سپوڅو گوډاگیانو په لاس یی ددی قهرمان اومجاهد ملت په ضد دجبل السراج شرموونکی درامه جوړه اوراسیدانی کړه خو کمونیستو بقایاوو یی دی ،دجالی سرود ته ونځل خوالحمد لله ملت خپل هدف له لاسه ورنکړ د جهاد اوقربانی سنگری لاتود وساته ، ډیر زړبی استاذی ،مکاری او مداری گری وپیژنده

دادی دری کاله پوره کیږی چی ددی نقابی خیرو له لاسه په دی مظلوم ملت مختلفی نادودی روانی دی . پولی تورم را منځته اوشتنی لوټ شوه افغانیو دخپل زیادښت په وجه خپل وزن له لاسه ورکړ ،کابل لوټ او وران شو دخلکو ناموسونه بی عزته شول ، اسلامی حکومت جوړ نشو دجهانی چستضعفو مسلمانانو مرسته ونشوه بلکی په ضد یی دناپودی سازشونه وشول دهیواد بودیجه د یو اوبل د وژلو لپاره وقف شوه داقتدار لپاره جعلی شوراگانی لکه داهل حل وعقد اوهرات شوراگانی اودخپلو غرضونو نفسی قضایی فیصلی وشری دا ټولی هغه چلوتی وی چی دی نفسی لیوانو دخپلی واکمنی لپاره ترسره کړی.

ددی سره څنگ کی یی په خپلو ټولو تعهداتو وفاونکړه اوچی په هرقیمت چی شول خپل کفری باداران بی خوشحاله وساتل.

